# څوک چې د روژې په حالت کې په هېره باندې خوراک او یا څښاک وکړي، نو خپله روژه دې پوره کړي، ځکه الله تعالی ورته خوراک او څښاک ورکړي دي

له ابو هريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايې چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي دي: "څوک چې د روژې په حالت کې په هېره باندې خوراک او يا څښاک وکړي، نو خپله روژه دې پوره کړي، ځکه الله تعالی ورته خوراک او څښاک ورکړي دي".
[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي څوک چې د فرض يا نفلي روژې پر مهال په هېره سره خوراک او څښاک وکړي نو خپله روژه دې پوره کړي او روژه دې نه ماتوي، ځکه چې هغه د روژې د ماتولو اراده نه وه کړې، بلکې دا هغه روزي وه چې الله تعالی يې نصيب کړه، نو خوراک او څښاک يې ورکړل.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4525

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee